عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۲۸ جنوري ۲۰۲۲

اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
شپږ اویایمه ناسته
د اجنډا ۳۹ ماده
د افغانستان وضعیت

د امنیت شورا
شپږ اویایم کال

# د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

## لومړی. پیژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۵۹۶ (۲۰۲۱) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له سرمنشي څخه غوښتل شوي و چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري پر ۳۱ نېټه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت په تړاو د ستراتیژیکو او عملیاتو سپارښتنو په اړه د امنیت شورا ته د وروستیو سیاسي، امنیتي او ټولنیزو تحولاتو په رڼا کې یو لیکلي راپور چمتو کړي، وړاندې کیږي.

۲. دغه راپور همدارنګه زما د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر د ۲ نېټې د راپور (A/76/328–S/2021/759) له خپرېدو راهیسې د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه او وروستي معلومات وړاندي کوي.

## دویم. اړوند تحولات

۳. افغانستان له ګڼو ناورینونو سره مخ دی: مخ پر ودې بشري بیړني وضعیت، یو ستر اقتصادي رکود، د بانکي او مالي سیستم فلج کېدل او لا تر اوسه د یوه ټول شموله حکومت نه جوړېدل. اټکل شوې چې په ۲۰۲۱ کال کې د ۱۸.۴ میلیونه وګړو په پرتله په ۲۰۲۲ کال کې له ۲۴ میلیونو څخه زیات وګړي بشري مرستو ته به اړتیا ولري. د طالبانو له خوا د اګست پر ۱۵ نېټه د کابل تر نېولو او د اسلامي جمهوریت د حکومت تر ړنګېدو وروسته، بر حاله چارواکو له نارینه وو یوه "سرپرسته کابېنه" جوړه کړه او په امنیتي او حکومتي جوړښتونو کې یې په ملي او ځایي کچه نوې ګمارنې اعلان کړې. د ولسي مرګ ژوبلې د شمیر سره یو ځای د جګړې عمومي کچه د پام وړ راکمه شوه، او په پراخه کچه بشري لاس رسی تسهیل شو. د افغان حکومت او امنیتي

ځواکونو د پخوانیو غړو او همدارنګه د هغو اشخاصو لپاره چې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره یې دندې ترسره کړي د بر حاله چارواکو له خوا د عمومي عفوې [بخښنې] سره سره، یوناما د وژنو، اجباري ورکېدنو او نورو هغو سرغړونو په اړه چې د دغو اشخاصو د ژوندانه او جسمي خوندیتوب حق اغیزمنوي، کره تورونه ترلاسه کړي. په ورته ډول، د بر حاله چارواکو له خوا د شریعت په چوکاټ کې د زده کړو په ګډون د ښځو د حقونو د خوندي کولو له ژمنو سره د افغان ښځو او نجونو بنسټیز حقونه او آزادي ګاڼې په سخت ډول محدودې شوي. ملګرو ملتونو په تېره بیا یوناما له بر حاله چارواکو سره په دوامدار ډول خپل تعامل جاري ساتلي څو د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د خوندي کولو، د یوې ټول شموله ادارې چې د افغان وګړو تنوع منعکس کړي د جوړولو او د تروریزم له ګواښ سره د مبارزې کولو په موخه د پرېکنده اقدام ترسره کولو په پار مدافعه وکړي.

## الف. سیاسي تحولات

۴. د اګست پر ۱۵ نېټه د طالبانو له خوا د کابل تر نیولو وروسته، طالبانو د سپتمبر پر ۷ نېټه له نارینه وو جوړه "سرپرسته کابینه" او په ملي او ولایتي کچه د نورو کلیدي منصبونو لپاره نوماندان اعلان کړل. هیبت الله آخندزاده د طالبانو د تحریک مشر پاتې شو په داسې حال کې چې محمد حسن آخند د بر حاله اداري رئیس الوزراء او عبد الغني برادر او عبد السلام حنفي د رئیس الوزراء مرستیالان ونومول شول. د رئیس الوزراء درېیم مرستیال محمد عبد الکبیر د اکتوبر پر ۴ نېټه ونومول شو. په ځایي کچه لوړ پوړي چارواکي لکه والیان، د پولیسو قوماندانان، د ریاستونو رئیسان، ښاروالان، او ولسوالان هم وګمارل شول.

۵. د پراخ ټول شموله حکومت چې د افغانستان توکمیز، سیاسي او جغرافیایي تنوع منعکس کړي او د ښځو د شاملولو لپاره د پراخو غوښتنو سره سره د ډسمبر تر ۲۰ نېټې پورې د ۳۴ ولایتونو والیان ټول نارینه او له نورو توکمیزو ګروپونو څخه له محدود استازیتوب سره زیاتره یې پښتانه دي. د ځایي مقاماتو ګڼ منصبونه له سره ترتیب شوي څو داخلي وېش ته رسېدنه وشي، خو ټولې ګمارنې لا اوس هم په طالبانو پورې تړلې خلک دي چې زیاتره یې دیني عالمان او روحانیون دي څوک چې د امنیت شورا د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) شمیره پرېکړه لیک په تعقیب د بندیزونو په لیست کې شامل دي.

۶. د سپتمبر پر ۲۸ نېټه، بر حاله چارواکو د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون وځنډاوه، دغې چارې یوه قانوني تشه رامنځ ته کړه، چې له شریعت سره د اوسنیو قوانینو د اعلان شوې بیاکتنې ته انتظار باسي. یوازې یو کم شمیر فرمانونه او عمومي لارښود یاداښتونه خپاره شوي. د سپتمبر پر ۱۹ نېټه، بر حاله چارواکو یو لارښود یاداښت خپور کړ چې رسنیزو چینلونه ته یې د هغو موضوعاتو له خپرولو د مخنیوي امر کاوه کومې چې له اسلام او شریعت سره په ټکر کې دي او د نورو شیانو ترڅنګ یې د ښځینه ژورنالستانو لپاره د حجاب موضوع تنظیموله او په فلمونو کې یې د ښځو پر کار بندیز وضع کاوه. د ډسمبر پر ۳ نېټه د طالبانو مشر د واده لپاره د رضایت د حق د رعایتولو په ګډون د ښځو د حقونو په اړه یوه فرمان خپور کړ او بر حاله سترې محکمې ته یې لارښوونه کوله چې د هغو قضیو په اړه پرېکړه وکړي په کومو کې چې ښځې شاملې دي. که څه هم د ځینو له خوا یې هرکلی وشو، خو پر فرمان د ښځو د حقونو بشپړې کچې ته په رسیدګۍ کې لکه ښځو د کار کولو حق او نجونو ته له شپږ ټولګي پورته او یا د ۱۱ او ۱۲ کلن پورته، د زده کړو حق په ورکولو کې د پاتې راتلو له امله نیوکې وشوې. د ډسمبر پر ۷ نېټه په خپور شوي لارښود عمومي یاداښت کې، د طالبانو مشر بر حاله والیانو ته لارښوونه وکړه چې له هغو افغانانو سره اړیکه ونیسي څوک چې له هیواد څخه بهر کډوال کېږي او اندېښنو ته یې رسېدنه وکړي. د ډسمبر پر ۱۸ په یوه بل یاداښت کې، هغه په امنیتي سکتور او عامه خدمتونو کې د یووالي او همغږیتوب پر اهمیت ټینګار کړی. د ډسمبر پر ۲۶ نېټه، د دعوت او ارشاد او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت یو لارښود یاداښت خپور کړ چې دا په ډاګه کوي چې ښځې په عامه ترانسپورت کې له محرم پرته اوږد سفر نه شي کولی.

۷.	د ډسمبر پر ۱۲ نېټه د طالبانو وياند او د اطلاعاتو او کلتور وزارت بر حاله مرستيال ذبيح الله مجاهد په ډاګه کړه چې "اسلامي امارت" به له افغان عالمانو سره په دې اړه يوه ناسته ترسره کړي چې هيواد څرنګه اداره کړي او د دې يادونه يې وکړه چې "بيا وروسته به د ښځو د حقونو په ګډون د جنجالي موضوعاتو په اړه د هغوي نظريې له خلکو سره شريکې کړي." طالبانو د هغو جوړښتونو کارونه جاري ساتلي کوم چې د تېر حکومت له خوا رامنځ ته شوي وو. د ډسمبر پر ۲۴ نېټه د بر حاله کابينې دفتر د هغې پرېکړې په اړه خبر ورکړ چې د اساسي قانون د تطبيق د څار خپلواک کميسيون؛ او دغه راز د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون وساتي، سره له دې چې د وروستي اداري نوم به بدلون کوي. بر حاله کابينې دغه راز پرېکړه کړې چې د ملي شورا د دواړو خونو د ولسي جرګې او مشرانو جرګې دار الانشاء ګانې وساتي، سره له دې چې د ملي شورا فعاليت ولاړ دی او د دولت د پارلماني چارو وزارت منحل شوی. کابينې دغه راز د دولت د سولې د چارو وزارت، همدارنګه د ټاکنو د مديريت د خپلواکو ادارو د منحل کېدو اعلان وکړ، چې د بر حاله چارواکو د وياند د مرستيال له وينا سره سم، که يې اړتيا وه بيا به جوړې شي. د ښځو چارو د وزارت او د هغه د ولايتي رياستونو په اړه کومه رسمي پرېکړه نه ده ترسره شوې، چې پخواني ودانۍ يې اوس د دعوت او ارشاد او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ادارو لپاره کارول کېږي.

۸.	په قضايي سکتور کې، د عدليې وزارت بر حاله وزير او بر حاله قاضي القضات او سترې محکمې مشر ټاکل شوي، سره له دې هغه قضايي سيستم چې دوي يې مشري کوي لا تر اوسه واضح نه دی. د ډسمبر پر ۱۶ نېټه، د طالبانو مشر د يوه فرمان په خپرولو سره د بر حاله سترې محکمې لپاره ۳۲ مشران، د رياستونو رئيسان، قاضيان او نور کليدي کارمندان وټاکل. د ډسمبر پر ۲۵ نېټه، هغه بر حاله لوي څارنوال وټاکه، چا چې د شريعت له مخې احتساب او د خپل دفتر خپلواکۍ ته د ودې ورکولو ژمنه وکړه. په داسې حال کې چې په ټولو ولايتونو کې قضايي منصبونه ډک کړای شوي، پخواني قاضيان، څارنوالان او قانون پوهان په بر حال عدلي سيستم کې نه دي ځای شوي. ښځې په عدلي سکتور کې له کارکولو څخه بې برخې پاتې شوي.

۹.	په امنيتي سکتور کې، د امنيتي وزارتونو په ځانګړي ډول د کورنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت جوړول او فعالول د بر حاله اداري له لومړيتوبونو څخه ګڼل کېدل. سراج الدين حقاني او محمد يعقوب عمر، د طالبانو د پخواني مشر ملا عمر زوی، په ترتيب سره د کورنيو چارو او د دفاع د برحاله وزيرانو په څېر ګمارل شوي. د امنيتي سکتور لومړيتوبونه د عراق او شام د اسلامي دولت – د خراسان ولايت ډلې ګواښ ته رسيدګي، د پنجشير ولايت په شا و خوا سيمو کې له وسله وال مقاومت سره مبارزه، او د جرايمو، د پولې په اوږدو کې د شخړو، د ځنګلونو د وهلو د مخنيوي له تروريزم سره د مبارزې د چارو سمبالول په ډاګه شوي. يونيفورم لرونکې ښځې چا چې پخوا يې په امنيتي سکتور کې دندې ترسره کولې له خدمت څخه بې برخې شوي. د اکتوبر پر ۱۱ نېټه، بر حاله کابينې د "تصفيې کميسيون" جوړ کړ چې د طالبانو له لېکو د "نا مطلوبو اشخاصو" د لرې کولو دنده ورکړل شوې، چې هغه کسان يې په نښه کړي چې په جنايي چلند کې ښکېل دي يا هغه څوک چې داسې انګېرل کېږي چې ګواکې د طالبانو ارزښتونو ته درناوی نه کوي. د راپورونو له مخې تر دې دمه شا و خوا ۷۰۰ کسان له لېکو لرې کړای شوي.

۱۰.	څرنګه چې د پخواني حکومت زياتره کارمندان له هيواده وتلي يا پټ شوي، يا د ښځو په اړه د هغوي اړوند پاليسي ګانو او ملکي کارمندانو ته د معاشاتو د تاديې په اړه د بې باوريو له امله د بر حاله چارواکو اداري او تخنيکي ظرفيت راکم شوی. د غچ اخېستنې د راپور شويو کړنو په رڼا کې، د بر حاله اداري له خوا د هڅوونو او د بخښنې له ډاډګېرنو سره سره زياتره پخواني کارمندان خپلو کارونو ته په ستنېدو کې زړه نا زړه دي. د څرګندې پاليسۍ د نشتون له امله چې نجونو ته د زده کړو حق ورکوي، همدارنګه د کم شمېر ښوونکو، ښوونځيو ته د کورنيو له خوا د نجونو په لېږد کې زړه نا زړه توب، اقتصادي ستونزو او دغه راز په ځايي کچه د طالبانو د پاليسي ګانو د نا متجانستوب له امله د هيواد په زياتره برخو کې د نجونو زده کړې په سخت ډول محدودې شوي. د نومبر پر ۲۰ نېټه، د مالیې وزارت اعلان وکړ چې د سپتمبر او نومبر مياشتو ترمنځ د عوايدو راغونډول له ۲۷ بيليونه څخه زياتو افغانيو (نږدې ۳۰۰ ميليونه ډالر) ته رسېدلي، چې په پام کې نېول شوي له دغه مبلغ څخه د دولتي کارمندانو معاشات تاديه شي. د ډسمبر پر ۳۱ نېټه د راپورونو له مخې په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د ۲۳ وزارتونو او د ځينو اړوند رياستونو په ګډون له ۶۳ بودجوي واحدونو څخه په ۶۱ هغو کې کارمندانو د سپتمبر او اکتوبر مياشتو معاشات تر لاسه کړي؛ که څه هم د معاشاتو د تادياتو په واقعي پروسس کې ننګونو شتون درلود.

۱۱. دمګرۍ د طالبانو سیاسي آپوزیسیون چې زیاتره یې له افغانستان څخه بهر دي، ویرلې وضعیت لري. یو کم شمېر سیاستوال د هیواد په داخل کې دي چې د طالبانو له خوا ورسره وخت نا وخت سلا مشورې ترسره کېږي.

۱۲. د سپتمبر پر ۲۲ او د اکتوبر پر ۱۲ نېټه، د شلو ګروپ (G20) د بهرنیو چارو وزیرانو او مشرانو، په ترتیب سره، فوق العاده ناستې ترسره کړه څو په افغانستان کې د وضعیت په اړه خبرې اترې ترسره کړي. په داسې حال کې زیاترو هیوادو په کابل کې خپلې ډیپلوماتیکې استازولۍ تړلې او د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې یې خپل سفارتونو دوحې ته لېږدولي، د نړیوالې ټولنې له خوا له طالبانو سره تعامل په تدریجي ډول زیات شوی. د اکتوبر پر ۵ نېټه، د افغان لېږد لپاره د بریتانیا د لومړي وزیر ځانګړي استازي سیمون ګیس له کابل څخه لیدنه وکړه. د نومبر پر ۱۸ نېټه، د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي ژاسپر ویک او د افغانستان لپاره د ډنمارک ځانګړي استازي مارکس پټزیل له کابل څخه لیدنه وکړه. د نومبر پر ۲۷ او ۲۸ نېټه، د ځانګړي استازي توماس نیکلسن په مشرۍ د اروپایي اتحادیې یوه پلاوي په دوحه کې له بر حاله چارواکو سره ډیالوګ [خبرې اترې] ترسره کړې. د نومبر پر ۲۹ او ۳۰ نېټه، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ځانګړي استازي توماس ویست په مشرۍ یوه پلاوي په دوحه کې له لوړ پوړو طالب استازو سره لیدنه ترسره کړه. د ډسمبر پر ۲ نېټه، د بهرنیو چارو د بر حاله وزیر امیر خان متقي په مشرۍ یوه طالب پلاوي په دوحه کې د ۱۶ هیوادونو له استازو سره لیدنه ترسره کړې چې له ټولو هیوادونو یې غوښتنه وکړه څو "د مثبتو اړیکو نوي فصل پرانېزي." د ډسمبر پر ۶ نېټه، عمومي اسامبلې د باور لیک د کمېټې پرېکړه تاییده کړه چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د استازولۍ په اړه پرېکړه وځنډوي. د ډسمبر پر ۱۲ نېټه، د عدلیې وزارت بر حاله وزیر شیخ عبد الحکیم شرعي د دې ادعا په کولو سره چې "اسلامي امارت" ټول نړیوال معیارونه پوره کړي، پر بهرنیو هیوادونو غږ وکړ چې بر حاله افغان حکومت په رسمیت وپېژني.

۱۳. د ملګرو ملتونو لوړ پوړو چارواکو او د یوناما لوړ پوړې مشرتابه په منظم ډول له بر حاله چارواکو سره خپل تعامل جاري ساتلی څو د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د خوندي کولو، د یوې ټول شموله ادارې چې د افغان وګړو تنوع منعکس کړي د جوړولو او د تروریزم له ګواښ سره د مبارزې کولو په موخه د پرېکنده اقدام ترسره کولو په پار مدافعه وکړي. یوناما همدارنګه په ولایتي کچه له بر حاله چارواکو سره د ملګرو ملتونو د ودانیو، شتمنیو، او کارمندانو د امنیت او خوندیتوب، دغه راز د بنسټیزو حقونو د موضوعاتو په تېره بیا د نجونو د زده کړو د حق او د ښځو د ګډون په اړه تعامل ترسره کړی.

۱۴. یوناما د مدني ټولنې د ګډ کاري ګروپ او د ښځو د یو شمېر سازمانونو په ګډون له سیاسي او مدني ټولنې له شریکانو سره خپل تعامل جاري ساتلی څو بر حاله چارواکو ته د هغوی لاس رسي او د ټول شمولیت، ګډون او مدني فضا په تړاو د وروستۍ ډلې چلند و ارزوي. د مدني ټولنې استازو د هغوي د دفترو د تړل کېدو او د هغوي د ځینو شتمنیو د نېول کېدو په اړه اندېښنه څرګنده کړه. ښځو په عامه او سیاسي ژوند کې د هغوي پر ګډون او د خوځښت پر آزادۍ د محدودیت؛ د جنسیت پر بنسټ د زیات شوي تاوتریخوالي؛ اجباري ودونو؛ اجباري حجاب؛ د بیان پر آزادۍ او د غونډو پر ترسره کولو د محدودیت، د بشري مرستو په رسولو کې د ښځو د نقش؛ او د ښځو د امن ځایونو د تړل کېدو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې. هغوي دغه راز ټینګار کاوه چې ناوړه اقتصادي وضعیت په نا متناسب ډول ښځې اغېزمنوي او د بسپنو/مرستو د برابرولو غوښتنه یې وکړه. هغوي له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د ښځو د حقونو د خوندي کولو په ګډون د یوې غښتلې شوې مدني فضا په پار له طالبانو سره تعامل وکړي.

## ب. امنیت

۱۵. د راپور ورکولو په موده کې، د طالبانو له خوا د سپتمبر پر ۶ نېټه د دولتي ځواکونو په وړاندې د خپلو نظامي عملیاتو د پای ته رسېدو تر اعلان وروسته امنیتي ډینامیکونو د پام وړ بدلون وکړ. تر هغې وروسته د جګړې اړوند د امنیتي پېښو په عمومي شمېر او ولسي مرګ ژوبله کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شو. د اګست د ۱۹ او د ډسمبر د ۳۱ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو

۹۸۵ امنيتي پېښې ثبتې کړې چې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله ۹۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د اګست له ۱۵ نېټې وروسته د هرې اونۍ پر سر د امنيتي پېښو شمېر له ۶۰۰ څخه تر ۱۰۰ کمو پېښو ته راپرېوت. موجوده شمېرې ښيي چې وسله والې نښتې له ۷۴۳۰ څخه ۱۴۸ پېښو ته ۹۸ سلنه؛ هوايي بريدونه له ۵۰۱ څخه ۳ هغو ته ۹۹ سلنه؛ د لاس جوړ چاوديدونکو توکو په پايله کې رامنځ ته شوې چاودنې له ۱۱۱۸ څخه ۱۰۱ هغو ته ۹۱ سلنه؛ او وژنې له ۴۲۴ څخه ۲۰۷ هغو ته ۵۱ سلنه راکم شوي. د اقتصادي او بشري وضعيت د چټک خرابېدو له امله د جرم اړوند امنيتي پېښو په ډولونو کې زياتوالی رامنځ ته شوی. د هيواد ختيځې، مرکزي، جنوبي او لويديځې سيمې د ټولو ثبت شويو پېښو ۷۵ سلنه جوړ وي، چې ننګرهار، کابل، کنړ او کندهار د هغو ولايتو په لېک دي چې د جګړې له امله تر ټولو زيات ځپل شوي. په تاوتريخوالي کې له کموالي سره سره، بر حاله چارواکي د هغوي د غړو په وړاندې د بريدونو د زياتېدو په ګډون له يو شمېر ننګونو سره لاس او ګريوان وو. ځينې دغه بريدو د ملي مقاومت جبهې ته چې له ځينې افغان مخالفو کسانو او په پخواني حکومت پورې له تړلو اشخاصو جوړه شوې، منسوب شوي. دغه ګروپونه په ابتدايي ډول په پنجشير ولايت او د بغلان ولايت په اندراب ولسوالۍ کې فعاليت کوي خو کومه د پام وړ جغرافيايي لاسته راوړنه نه لري. وسله والې نښتې له اجباري بېځايه کېدنې او د مخابراتي خدماتو له پرېکونه سره يو ځای په منظم ډول راپور شوي. همدارنګه د طالبانو ترمنځ د توکميز توپير او د منصبونو پر سر د سيالۍ له امله کړکيچ د تاوتريخوالي لامل شوی، لکه د باميانو په ښار کې د طالب ځواکونو ترمنځ د ۴ نومبر وسله واله نښته.

۱۶. د ګاونډيو هيوادونو دې اندېښنو ته په غبرګون کې چې افراطي ډلې ښايي افغان خاوره د هغوي پر سيمو د بريدونو د ترسره کولو په موخه وکاروي، بر حاله چارواکو پر سرحدي سيمو د خپل کنترول د منسجم کولو په پار هڅې ترسره کړې. د اګست پر ۲۱ او د نومبر پر ۱ نېټه د طالبانو او ايراني سرحدي ځواکونو ترمنځ د پېښو او د اکتوبر پر ۳۱ نېټه د افغانستان-پاکستان د سپين بولدک له پولې د مرګونې ګڼې ګوڼې د تېريدو د پېښې په ګډون له ايران، پاکستان، تاجکستان او ترکمنستان سره د افغانستان په سرحدي سيمو کې د کړکيچونو او امنيتي پېښو په اړه راپورونه ورکړل شوي. د تاجکستان او د بر حاله چارواکو ترمنځ کړکيچونه د طالبانو او تاجک ځواکونو په لېږد او د افغانستان په شمال کې د اسلامي دولت د خراسان ولايت ډلې د کړيو او د ملي مقاومت له جبهې سره د تړلو مخالفو اشخاصو د شتون تر راپورونه وروسته زيات شول.

۱۷. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې له خوا ترسره شوي يا هغوي ته منسوب شوي بريدونه زيات شوي او په کابل او ختيځ افغانستان کې د دغې ډلې د تمرکز له پخوانيو سيمو نورو هغو ته پراخ شوي. د اګست د ۱۹ او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ، ملګرو ملتونو د نوموړې ډلې له خوا د تېر کال د ورته مودې پرمهال په پنځو ولايتونو کې د ۲۰ بريدونو په پرتله په ۱۶ ولايتونو کې ۱۵۲ بريدونه ثبت کړي. پر بر حاله چارواکو سربېره د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې په ښاري سيمو کې همدارنګه ولسي وګړي په ځانګړي ډول شيعه مذهبه لړکي په نښه کړي. دغې ډلې د اکتوبر پر ۳ نېټه په کابل کې پر يوه سني مذهبه جومات د بريد، دغه راز په کندز او کندهار ښارونو کې د اکتوبر پر ۸ او ۱۵ نېټه د شيعه مذهبو پر دوه جوماتونو د بريد او پر دې سربېره په کابل کې د نومبر پر ۲ نېټه پر يوه نظامي روغتون د بريد مسووليت پر غاړه اخيستی. د کابل په لويديځ کې د ډسمبر پر ۱۰ نېټه د دوه بريدونو چې د شيعه مذهبه/هزاره توکمو سيمه يې په نښه کړې وه، مسووليت کوم لوري پر غاړه نه دی اخيستی. بر حاله چارواکي ادعا کړې چې د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې پر ضد يې خپل عمليات لومړيتوب بندي کړي او په نوموړې ډلې پورې د تړلو اشخاصو د تسليمدو راپور يې ورکړی.

۱۸. د اګست د ۱۹ او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ، ملګرو ملتونو ۱۱۱ د تهديدونو قضيو، ۳۹ د جرمي قضيو، ۱۰ د نېولو قضيو، ۳۰ د ملګرو ملتونو د کمپاونډونو، دفترونو او ملکيتونو د اغيزمنولو د قضيو په ګډون ۱۹۶ داسې پېښې مستند کړي چې په مستقيم ډول يې ملګري ملتونه په تېره بيا د هغوي کارمندان اغيزمن کړي. دا د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په دوران کې د ۳۴ ثبت شويو په پرتله د پام وړ زياتوالی په ډاګه کوي. په عين وخت کې د ملګرو ملتونو ادارو په ټول هيواد کې د ټولو سترو او ځينو کوچنيو ارزول شويو او تصفيه شويو مسيرونو له لارې خپل عمليات جاري ساتلي.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۱۹. سیمه ییزو هیوادونو د یوه ټول شموله افغان حکومت د جوړولو، بشري مرستو، د ښځو او لږکیو د حقونو په ګډون د بشري حقونو د خوندي کولو، او نشه یي توکو له سوداګرۍ او تروریزم سره د مبارزې، دغه راز د افغان کډوالو اوږد مهالي وضعیت ته د رسیدګۍ کولو غوښتنې جاري ساتلې. د افغانستان شپږګاونډیو هیوادونو د سپټمبر پر ۵ د خپلو ځانګړو استازو انلاین ناسته ترسره کړه، او په تعقیب یې د سپټمبر پر ۹ نېټه د بهرنیو چارو د وزیرانو له خوا ترسره شوه چې د دواړو کوربتوب د پاکستان له خوا کېده کومو چې له طالبانو د یوه ټول شموله حکومت د جوړولو او د دې ډاډ تر لاسه کولو غوښتنه وکړه چې تروریستي ډلې به په هیواد کې خوندي ځایونه نه ترلاسه کوي. د اکتوبر پر ۲۷ نېټه، په دوه ګونې بڼه انلاین او په تهران کې یوه ناسته کې د بهرنیو چارو شپږو وزیرانو او د روسیې د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان د وضعیت په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه او د یوه "پراخ بنسټه سیاسي جوړښت" غوښتنه یې وکړه.

۲۰. د سپټمبر پر ۱۲ نېټه، د قطر د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبد الرحمن الثاني له افغانستان څخه لیدنه وکړه څو له بر حاله چارواکو سره په افغانستان کې سولې ته د ودې ورکولو پر لارو چارو او د کابل هوایي ډګر د فعالولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. نوموړي له هغو تروریستي سازمانونو سره د مبارزې د پیاوړ هڅو د اهمیت یادونه وکړه چې د افغانستان ټیکاو ګواښي او له چارواکو یې غوښتنه وکړه چې په ملي پخلاینه کې ټول افغان لوري دخیل کړي.

۲۱. د سپټمبر پر ۱۶ او ۱۷ نېټه، د شانګهاي د همکارۍ سازمان د هیوادونو مشرانو په تاجکستان کې سره را غونډ شول. دوی د بشري مرستو او له بر حاله چارواکو سره د ډیالوګ د ساتلو پر اړتیا توافق وکړ.

۲۲. د چین، پاکستان او روسیې ځانګړو استازو د سپټمبر پر ۲۱ نېټه د طالبانو د رئیس الوزراء سره وکتل. هغوی همدرانګه له پخواني ولسمشر کرزي او پخواني اجرائیه رئیس عبد الله سره وکتل او په ډاګه یې کړه چې د مباحثې په موضوعاتو کې په هیواد کې اوسني تحولات، د سولې او ټیکاو لپاره اړتیا، د ښځو حقونه، عمومي زده کړې، ټول شموله حکومت او دغه راز سیمه ییزه همکاري شامل وو.

۲۳. د اکتوبر پر ۷ نېټه، د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر عبد العزیز کاملوف له کابل څخه لیدنه وکړه څو له بر حاله چارواکو سره د بشري مرستو او د انرژي او ترانسپورت د پروژو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اکتوبر پر ۱۶ نېټه، یوه طالب پلاوي د ازبکستان له ترمذ څخه لیدنه وکړه څو د اقتصادي اړیکو، برېښنا، د اورګاډي پټلۍ د ارتباطاتو او نورو دوه اړخیزو موضوعاتو په اړه مباحثې ترسره کړي. د نومبر پر ۱۴ نېټه، ازبک ځانګړي استازي او د ازبکستان د ترانسپورت او هوا نوردۍ له وزارت څخه چارواکو له مزار شریف څخه لیدنه وکړه څو د هوایي ډګر د بیا رغونې په ګډون د دوه اړخیزو پروژو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۴. د اکتوبر پر ۱۵ نېټه، د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو وویل چې د یوه ټول شموله حکومت د جوړولو او همدارنګه د ښځو او نجونو د حقونو په اړه د بهرنیو چارو د بر حاله وزیر متقي په مشرۍ له طالب پلاوي سره په یوه ناسته کې خبرې اترې ترسره شوې. ښاغلي چاووش اوغلو د افغانستان د کنګل شویو مالي زیرمو پر خوشې کولو ټینګار وکړ څو د هیواد د اقتصاد د له منځه تلو مخه ونیسي او له اړوندو هیوادونو څخه یې په دې برخه کې د انعطاف ښودلو غوښتنه وکړه.

۲۵. د اکتوبر پر ۱۷ نېټه، د نړیوالې همکارۍ لپاره د ولسمشر د ځانګړي استازي ایرژن قاضیخان په مشرۍ له قزاقستان څخه یوه پلاوي له کابل څخه لیدنه وکړه څو د بشري مرستو او له افغانستان سره د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د بېرته پیلولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د قزاقستان د سوداګرۍ وزیر د ډسمبر پر ۲۵ نېټه کابل ته د یوه پلاوي مشري کوله څو د دوه اړخیزه سوداګریزو اړیکو په اړه مباحثې ترسره کړي.

۲۶. د اکتوبر پر ۲۰ نېټه، د چین، هندوستان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، روسیې، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ځانګړو استازو او د رئیس الوزراء د بر حاله مرستیال حنفي په مشري یوه پلاوي په مسکو کې د افغانستان په اړه د سلا مشورو په پار په یوه ناسته کې ګډون وکړ. ګډونوالو له افغانانو سره د بشري او اقتصادي مرستونو په پار د نړیوالو هڅو د انسجام پر اړتیا توافق وکړ.

۲۷. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر مخدوم شاه محمود حسین قریشي د اکتوبر پر ۲۱ نېټه له کابل څخه لېدنه وکړه څو له بر حاله چارواکو سره د پولې په اوږدو کې د تګ راتګ د مدیریت، بشري مرستو او له تروریزم سره د مبارزې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د نومبر له ۱۰ تر ۱۳ پورې د بهرنیو چارو د بر حاله وزیر متقي په مشرۍ یوه پلاوي له پاکستان څخه لېدنه ترسره کړه. د نومبر پر ۱۱ نېټه، اسلام آباد د چین، پاکستان، روسیې او له متحده ایالاتو څخه تشکیل د ترویکا ناستې کوربه و څو د افغانستان د وضعیت په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۲۸. د اکتوبر پر ۲۵ نېټه، د طالبانو یو هیئت په دوحه کې د چین د بهرنیو چارو له وزیر وانګ اي سره ولېدل. د طالبانو ویاند په ډاګه کړه چې دواړو خواوو د افغانستان د سیاسي او اقتصادي وضعیت په اړه خبرې اترې ترسره کړې او دریو ګډو کمېټو په رامنځ ته کولو هوکړې ته ورسېدل.

۲۹. د اکتوبر پر ۳۰ نېټه، د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر رشید میریدوف له کابل څخه لېدنه ترسره کړه. هغه له بر حاله چارواکو سره د ټاپي د ګازو د نل لیکې په ګډون د پروژو په اړه خبرې اترې وکړې.

۳۰. د نومبر پر ۱۰ نېټه، د هندوستان د ډهلي ښار د افغانستان په اړه د درېیم سیمه ییز امنیتي ډیالوګ کوربه و چې د افغانستان د ګاونډیو او سیمه ییزو هیوادونو امنیتي سلاکارانو په کې ګډون کړی و. د ډهلي په اعلامیه کې، ګډونوالو یو ځل بیا د یوه سوله ییز، خوندي او با ثباته افغانستان د ملاتړ یادونه وکړه په داسې حال که چې د هغه خپلواکۍ ته یې پر درناوي ټینګار کاوه.

۳۱. د ډسمبر پر ۱۹ نېټه، په پاکستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو اوولسمه فوق العاده سرمشریزې په افغانستان کې پر بشري وضعیت تمرکز وکړ. د بهرنیو چارو بر حاله وزیر متقي هم په دغې ناسته کې ګډون وکړ. نوموړي سازمان د اسلامي پراختیایي بانک له لارې د افغانستان لپاره د بشري مالي صندوق د رامنځته کولو اعلان وکړ او طارق علي بخیت یې د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي په څېر وټاکه.

**درېیم. بشري حقونه**

۳۲. د افغان حکومت او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو او همدارنګه د هغو اشخاصو لپاره چې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره یې دندې ترسره کړي د عمومي عفوې [بخښنې] سره سره، یوناما لا اوس هم د دغو کسانو د وژنو، اجباري ورکېدنو او نورو سرغړونو په اړه کره تورونه ترلاسه کوي. د اګست د ۱۵ نېټې را پدېخوا، یوناما د دغه ډول له ۱۰۰ څخه د زیاتو وژنو ادعاوې ترلاسه کړې د دغې ادارې له خوا باوري ثابتې شوې، چې ادعا شوې چې دوه پر درې برخه یې له محاکمې پرته وژنې وې چې د بر حاله چارواکو یا له هغوی سره د تړلو کسانو له خوا ترسره شوې. یوناما دغه راز د لږ تر لږه ۵۰ اشخاصو چې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې سره په تړاو تورن وو، له محاکمې پرته د وژنو باوري تورنه ترلاسه کړې.

۳۳. د بشري حقونو مدافعین او د رسنیو کارمندان لا اوس هم تر بریدونو، تهدیدونو، ځورونې، خپل سرې نیونې، ناوړه چلند او وژنو لاندې نیول کېږي. د مدني ټولنې اته فعالین وژل شوي (درې د بر حال چارواکو له خوا، درې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا او دوه قضیې کوم لوري ته نه دي منسوب شوې)، لس هغه یې د بر حاله چارواکو له خوا له موقتې نیونې، وهلو ټکولو او تهدیدونو سره مخ شوي. دوه ژورنالستان وژل شوي (یو یې د عراق او شام د اسلامي

دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا او بل یې کوم لوري ته نه شو منسوب کیدای)، او دوه نور یې د نا معلومو وسله کسانو له خوا ټپي شوي. د یوناما له خوا د موقتي نیونې، وهلو ټکولو او ګواښونو یا تهدیدونو د مستند شویو له ۴۴ قضیو څخه ۴۲ هغه یې بر حاله چارواکو ته منسوب شوي او دوه قضیې کوم مشخص لوري ته شوې منسوب کیدای. زیاتره رسنۍ د مالي ستونزو او د بر حاله چارواکو له خوا پر محتویاتو د محدودیت د رامنځ ته کولو له امله تړل شوي. د سپټمبر پر ۱۶ نېټه، ۱۰۰ افغان ژورنالستانو یوه غوښتنه خپره کړه چې د خوندیتوب د تضمینونو په لټه کې وو په تېره بیا د ښځینه ژورنالستانو لپاره، او رسنیزو چینلونو لپاره یې د فعالیت د دوام غوښتنه کوله.

۳۴. په داسې حال کې چې د اګست له ۱۵ نېټې را وروسته د افغانستان په زیاتره برخو کې په پراخې جګړې کې د پام وړ کموالی د ځمکنیو نښتو او هوایي بریدونو له امله په ولسي مرګ ژوبله کې د ستر کموالي لامل شوی، یوناما لا اوس هم له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو پېښې مستندوي. د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د دې په شمول چې له ۳۵۰ څخه زیات ولسي وګړي وژل شوي له ۱۰۵۰ څخه زیات ملکي تلفات مستند کړي. د لاس جوړ چاودیدونکي توکي دواړه انتحاري او غیر انتحاري هغه چې نږدې ټول هغه یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي، د نږدې د ۳۰۰ وژنو په ګډون د ۸۵۰ ملکي تلفاتو لامل شوي، چې زیاتره یې له هغه فرقه ییزو بریدونو جوړ دي چې ولسي وګړي په نښه کوي. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدنکي توکي د ۱۰۰ ملکي تلفاتو (زیاتره ماشومان)، د رواني وسله والې جګړې په تړاو هدفي وژنې له ۵۰ څخه زیات د ملکي تلفاتو، د بر حاله چارواکو او د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې یا د مقاومت ډلو ترمنځ ځمکنۍ نښتې نږدې د ۲۰ ملکي تلفاتو، او د اګست پر ۲۹ نېټه د متحده ایالاتو له خوا یو هوایي برید چې د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله یې په نښه کړې وه د ۱۰ ملکي تلفاتو لامل شوي.

۳۵. د عدلیې وزارت د افغانستان د مدافع وکیلانو له خپلواکې ټولنې څخه دا صلاحیت واخیست چې قانون پوهانو ته جوازونه صادر کړي او د نومبر پر ۲۴ نېټه یې د نوموړې ټولنې لپاره یو سرپرست وټاکه. دغه وزارت یوناما ته ویلي چې د وزارت له خوا جواز لرونکي وکیلان به په خپلواکه توګه او له کوم خنډ پرته کار وکړي او ښځینه وکیلانو ته به له اړینو شرایطو سره سم د کار کولو اجازه ورکړي.

۳۶. د نومبر پر ۲۳ نېټه، بر حاله رئیس الوزراء بر حاله چارواکو ته لارښوونه وکړه چې د شریعت له مخې د توقیف شویو کسانو حقونه خوندي او هغوي ته درناوي وکړي او د توقیف موده یې محدوده کړي. یوناما لا اوس هم د توقیفیانو داسې راپورونه تر لاسه کوي چې محکمې یا د شخړو د حل کوم بل میکانیزم ته نه دي وړاندې شوي.

۳۷. ویجاړ شوي اقتصاد د کورنیو د مقابلې میکانیزمونه په ناوړه ډول اغیزمن کړي چې د ښځو او ماشومانو لپاره یې د خوندیتوب/ساتنې جدي اندېښنې را ولاړې کړې لکه استثمار او ناوړه ګټه اخیستنه، قاچاق، د ماشومانو پلور، د ماشوم واده، د وسله وال ځواک له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارونه او د ماشومانو کار. تر ډیره بریده په کور پورې د ښځینه کارمندانو د کاري ځواک په محدودیدلو او د دواړو ښځو او نارینه وو لپاره له دوامدارۍ بې کارۍ سره، نا تایید شوي راپورونه په ډاګه کوي چې دغه چاره په کورني تاوتریخوالي کې د زیاتوالي لامل شوې. قربانیان اوس مهال په ټول افغانستان کې د نا څرګند حقوقي او قضایي سیستم او د جنسیت پر بنسټ د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د حمایتي خدمتونو د نشتون په پام کې نېولو سره، رسمي عدالت ته رجوع نه کوي. د اګست د ۱۵ نېټې راهیسې ملګرو ملتونو د بر حاله چارواکو په لیکو کې لا اوس هم د ماشومانو د شتون، او دغه راز د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د ماشومانو د استخدام د هڅو راپورونه تر لاسه کوي.

۳۸. بر حاله چارواکو سوله ییز لاریونونه (د هغو ښځو په ګډون چې د کار کولو، خوځښت د آزادۍ، زده کړو او سیاسي ګډون د حق غوښتنه یې کوله) ځپلي، او د سپټمبر پر ۸ نېټه یې لارښوونې خپرې کړې چې له اجازې پرته غونډې/لاریونونه یې منع کولې. د اکتوبر او ډسمبر میاشتو ترمنځ، لاریونونه تر ډیره راکم شول، چې عمدتا ښوونکو، روغتیایي او نورو کارمندانو د

معاشاتو د نه تادیې په وړاندې لاریونونه کول. د ښځو ډلو په زیاتېدونکې ډول د ترلو دروازو تر شا د سوله ییزو غونډو جوړولو او د خپلو حمایتي پیغامونو د خپرولو لپاره یې د ټولنیزو رسنیو کارولو ته مخه کړې.

۳۹. په داسې حال کې چې بر حاله چارواکو د ملکیت ښتنتوب د تنظیمولو هڅې پیل کړې، د ځمکې او ملکیت په حقونو پورې اړوند د سیمه ییزو شخړو راپورته کېدو دوام درلود، د اجباري تخلیې د راپورونو په ګډون چې زیاتره لړکې ګروپونه اغیزمن کوي د بر حاله چارواکو له خوا تسهیل یا تحمیل شوي.

۴۰. د سپتمبر پر ۱۸ نېټه په یوه اعلامیه کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې د خپل فعالیت د ترسره کولو د نه وړتیا په اړه خبر ورکړی. د دغه کار په تعقیب په کابل کې د مرکزي دفتر په ګډون په ټول هیواد کې د نوموړي کمیسیون بیلا بیل دفترونه پلټل شوي او نېول شوي.

### څلورم. د ډونرانو د مرستو همغږی

۴۱. د طالبانو لخوا د ځواک د نیولو راهیسې، د پراختیایي همکاریو د چوکاټونو پلي کول تعلیق شو. ملګري ملتونه، د یوناما په ګډون، د بشري مرستو او پراختیایي تمویل کوونکو سره بحثونه د لوړې کچې غونډو په دایرولو سره دوام ورکړي تر څو دوی وهڅوي چې د افغانانو د اساسي بشري اړتیاوو لپاره مالي تمویل برابر کړي، په عین وخت کې د موجوده تعزیراتو رژیم ته هم په بشپړه توګه درناوی وشي. د امنیت شورا د دسمبر په ۲۲ نېټه ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) ګڼه پریکړه لیک تصویب کړ چې په هغه کې ویل شوي: په افغانستان کې د بشري مرستو برابرول او هغه موسسي کوم چې د بېړنۍ بشري مهمو مرستو په ملاتړ او برابرولو کې شامل دي، باید د ملګرو ملتونو د موجوده تغزیراتو څخه سرغړونه ونکړي. په همدې ورځ، د دوه عمومي جوازونو سریېره چې د سپتمبر په ۲۴ نېټه صادر شوي وو، د متحده ایالاتو د خزانې وزارت د بهرنیو شتمنیو د کنټرول دفتر درې نور عمومي جوازونه صادر کړ ترڅو افغانستان ته د بشري مرستو او نور ملاتړ دوامداره جریان اسانه کړي. د صادر شویو جوازونو تر څنګ "په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې" هم صادر شول تر څو ځانګړي عطف او دا ښکاره کړي چې دا جوازونه د ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) ګڼې پریکړه لیک د ملاتړ په موخه او په ځانګړي توګه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د انتقالي ښکیلتیا د چوکاټ د پلي کولو د اسانتیا لپاره صادر شوي دي. د انتقالي ښکیلتیا چوکاټ هغه لومړیتوبونه توضیح کوي چې، د بشرپالنې مرستې، اړین خدمتونه، ټولنیزې پانګونې او د ټولنې په کچه د سیستمونو په ګډون، بشري لومړنیو اړتیاوو ته رسیدګې وکړي.

۴۲. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د افغانستان لپاره یو ځانګړی وجهي صندوق رامنځته کړ تر څو د ملګرو ملتونو د ګډ پروګرامونو لپاره د ډونرانو تمویل مدیریت کړي کوم چې د مرستې لپاره د اړینو خدماتو دوامداره وړاندې کول، معیشت او د ټولنې انعطاف چې د کورنیو، ټولنې او خصوصي سکتور سره مرسته وکړي، باندې تمرکز لري. د روغتیا په ډګر کې، د صحتمندې پروژه، چې د عامې روغتیا خدمتونو د چمتو کولو لپاره غیردولتي موسسو سره قرارداد کوي، د اکتوبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام له لارې مالي تمویل ترلاسه کړي، او د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) او د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) له خوا د مرکزي بیړنۍ غبرګون تمویل له لارې د دریو میاشتو لپاره، د ۲۰۲۲ کال د جنوري تر میاشتې پورې تمویل تر لاسه کړی دی. دغه درې موسسې د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې پروژې پلي کړې، چې تر ۲۳۰۰ څخه زیات روغتیایي مرکزونو فعال ساتلو لپاره ملاتړ چمتو کړی دی. د ۳،۱ میلیون څخه زیات وګړې، د (۱،۱ میلیونه) ماشومانو او (۷۸۲۰۰۰) ښځو په ګډون، او همدارنګه ۲،۵ میلیون تنو ته د روزانه ناروغانو په څانګو کې خلکو ته روغتیایي خدمتونه چمتو کړي دي. همدارنګه دغه پروژه د ۷۳۰۰ ښځینه کارکوونکو په ګډون، کابو ۲۶۰۰۰ روغتیایي کارکوونکو ته د تنخواګانو د

ورکړې ملاتړ کړي اوهمدارنګه د ۲.۹ میلیون ډالرو په ارزښت د درملو، لابراتوارونو تجهیزاتو او نور روغتیایي توکې تدارک کړي دي.

۴۳. د افغانستان کورني ناخالص تولید ۴۰ سلنه کم شوی دی. د سوداګري توکو او د مالي شتمنیو او خدمتونو کچه خورا محدوده شوي ده، د ملکي کارکوونکو تنخواګانې، که ممکنه وي، په بشپړ ډول نه تادیه کیږي، او د تیلو او خوراکي توکو بیې په چټکۍ سره لوړې شوې دي. د هغو بې وزلو افغانانو لپاره کوم چې لا تر اوسه بشري مرستو ته اړتیا نلري، د عاید د تولید د ملاتړ په موخه، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د سیمې پر بنسټ د بیړنیو پراختیایي نوښتونو یوه کړنلاره پلې کړی ده. دغه نوښت پر دې تمرکز لري چې د کار په مقابل کې نغدو پیسو، ځايي بازارونو او د معیشت فرصتونو، او په ځانګړي ډول د کرنې سوداګرۍ او بېرته احیا کرنېز زیربناو، او د خوړو خوندیتوب تضمین او د مهمو خدمتونو د ډاډمن کولو له لارې، د عاید فرصتونه رامنځته کړي دي.

## پنځم. د بشرپالنې مرستې

۴۴. په ۲۰۲۱ کال کې کابو نیمايي وګړي د جګړو د اغیزو، وچکالي او د کووید-۱۹ د وبا له امله بشري مرستو ته اړتیا درلودل. ډونران د ۲۰۲۱ کال د دوو غوښتنو په ځواب کې کابو ۱.۵ میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان لپاره برابر کړل. پدې کې د ۶۰۶ میلیون امریکایي ډالر د بېړنې غوښتنی په ځواب کې ۷۶۲ میلیون امریکایی ډالر چې د غوښتنې ۱۲۶ سلنه جوړوي او د ۸۶۹ میلیون امریکایي ډالر د بشري غبرګون د پلان د غوښتنې په مقابل کې ۷۳۰ میلیون امریکایي ډالر چې د غوښتنې ۸۴ سلنه جوړړي شامل دي. د ۲۰۲۱ کال تر پایه د بشري مرستو شریکانو کابو ۱۸ میلیون وګړو، د ۴۰۱ ولسوالي له مجموعي څخه ۳۸۴ ولسوالیو ته د ژوند ژغورونکي څو سکتوري مرستې ورسولې. د سپتمبر د میاشتې راهیسې، د بشري مرستو همکاران لږ تر لږه ۸.۹ میلیون وګړو ته خواړه؛ ۱۴۳۹۲۱ ماشومانو ته د ټولنې پر بنسټ زده کړه؛ ۱۶۲۲۲۹ تنو ته د کور اړین توکي؛ ۱۳۸۵۹۹۹ تنو ته د روغتیاپالنې خدمتونه؛ ۲۳۸۲۲۳ ماشومانوته چې عمرونه یې له پنځو کلونو څخه کم وو د شدید خوارځواکۍ درملنې مرستې، ۴۸۸۸۶ وګړو ته د انفرادي محافظت مرستې؛ او ۵۰۷۷۲۸ تنه وګړو ته د ځځلو د تنظیف، نظافت او حفظ الصحې مرستې رسولې دي. په ورته وخت کې د روغتیاپالنې فعالانو د لومړنیو روغتیایي خدمتونو دوام ډاډمن کړ چې د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر د میاشتې څخه بیا د ۲۰۲۲ کال جنورۍ د میاشتې په دننه موده کې له ۲۳۰۰ څخه زیات لومړني روغتیاپالنې مرکزونه احتوا کوي. د ۲۰۲۲ کال لپاره لېړلید د اندېښنې وړ دی ځکه ۲۴.۴ تنه وګړي (د ټول نفوس ۵۹ سلنه) بشري مرستو ته به اړتیا ولري، چې دغه انډول د ۲۰۲۱ کال په پرتله ۱۸.۴ میلیون تنو ته رسیده او ۴.۵ میلیارد امریکایي ډالر بشري تمویل ته اړتیا درلود.

۴۵. افغانستان په نړیواله کچه د غذایي مصؤنیت او خوارځواکۍ د یو ستر ناورین سره مخ دی. دغه هېواد په تېرو څلورو کلونو کې له دوهمې وچکالۍ سره مخامخ دی او په ۲۷ کلونو کې خپل تر ټولو ناوړه وچکالۍ تجربه کوي. اټکل کیږي چې د مارچ تر میاشتې پورې ۲۲.۸ میلیون تنه خلک به د غذايي ناورین او د غذایي نه مصؤنیت "بیړني" کچې سره مخامخ وي. له دې شمېرې څخه نږدې ۹ میلیونه تنه به غذايي نه مصؤنیت "بیړني" کچه تجربه کړي، چې په نړۍ کې تر ټولو لوړه شمېره ده. د پنځو کلونو څخه کم عمره نیمايي ماشومان د شدید خوارځواکۍ سره مخ دي. د جنورۍ د میاشتې راپدېخوا بشرپاله همکاران کابو ۱۶ میلیونه وګړو ته له ۲۷۰۰۰۰ میټریک ټنو څخه زیات خواړه او نږدې ۳۸ میلیونه امریکایي ډالر نغدي پیسې چمتو کړي دي. همدارنګه د بشري مرستو ملګرې د جولای او نومبر د میاشتو تر منځ موده کې یو میلیون خلکو ته د غنمو د کښت بیړنۍ بستې مرستې تیار کړي دي. په همدې ډول شریکانو د څښاک پاکې اوبه، د روغتیا پالنې او حفظ الصحې آسانتیاوې کابو ۴ میلیون خلکو ته تیار کړي دي.

۴۶. د دسمبر د میاشتې تر ۲۲ نېټې پورې، ۱۵۷۸۲۰ تنه په کوویډ - ۱۹ اخته شوي، پداسې حال کې چې د دې وبا له پیل راهیسې شاوخوا ۷۳۳۷ تنه مړه شوي دي. دا احتمال شته چې کم راپور ورکړ شوی وي ځکه چې په ټول هیواد کې یوازې ۸۱۳۳۱۳ د کووید -۱۹ ازموینې ترسره شوې دې. د ازموینې ورځنۍ ظرفیت ۹۵۰۰ ازموینو ته غځول شوی دی؛ په داسې حال کې چې د درملنې ظرفیت محدود پاتې دی. د دسمبر د میاشتې تر ۲۲ پورې، تر ۴.۵۴ میلیون څخه زیات کسان قسماً واکسین شوي دي، او نږدې ۳.۷۶ میلیونه خلک په بشپړ ډول واکسین تر لاسه کړي دي. د ښځو او زیانمنو ډلو کې د واکسین کچه په ناانډول ډول سره ټیټ دی. د اګست د میاشتې د نیمایي څخه بیا د ډسمبر تر میاشتې پورې د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو کې د شرې ۷۷۷۸ پېښې په کلینیکي ډول سره تایید شوي دي. په دې موده کې ملګري ملتونو څه د پاسه ۲ میلیونه ماشومان د شرې پر ضد واکسین کړي دي.

۴۷. د سپتمبر د میاشتې راپدیخوا بشري مرستو ته د لاسرسي په وړاندې د خنډونو شمیر په زیاته پیمانه په هیواد کې د جګړو د کمیدو له امله را ټیټ شوی دی. خو په عین حال کې کابو ۲۰۵۰ د بشري مرستو اړوند د لاسرسي پورې ننګونې د ۲۰۲۱ کال په دوران کې ثبت شوي دي – د پېښو زیاته برخه د اګست د میاشتې له ۱۵ نېټې څخه دمخه تر سره شوي ځکه چې شخړې خپل وروستي حد ته رسیدلي وو – په ۲۰۲۰ کال کې دغه شمېره ۱۱۰۴ پېښو ته رسیده. پداسې حال کې چې د بشري مرستو په کار کې مداخله دوام لري، چې په دغه اړوند، د سپتمبر د میاشتې له ۱ نېټې څخه بیا د دسمبر د میاشتې تر ۱۷ نېټې پورې مرستو ته د لاسرسي لړترلږه ۳۷۶ د محدودیتونو پېښې راپور ورکړ شوي چې د محدودیتونو شمېرې د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې د تیر په پرتله نیمايي ته کم شوي او په ترتیب سره د ۹۷ او ۹۹ پیښو ته ورسیده.

۴۸. د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه بیا د ډسمبر د میاشتې تر ۱۹ نیټې پورې په موده کې جګړې کابو ۶۶۹۶۸۲ تنه خلک بې ځایه کړي دي چې دغه شمېره د هغه ۵ میلیونو بې ځایه شویو کسانو سربیره دي کوم چې ۲۰۱۲ کال راهیسې بې ځایه پاتې شوي دي. د اګست له ۱۵ نېټې راهیسې د جګړو له امله ټولټال دوه سلنه خلک بې ځایه شوي دي. د شخړو له امله په اروايي صدمې اړوند پیښې کمې شوې د سپتمبر او نومبر د میاشتو ترمنځ دغو پېښو کې، د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله ۶۰ سلنه کم والي راغلی دی. د دغو چاودنو له امله کوم ماشومان چې ژوبل شوي دي، ۶ سلنه جوړوي. د اګست او دسمبر د میاشتو ترمنځ، له ۹۰۰۰۰ څخه زیات کسان د رواني خدمتونه ترلاسه کړي دي.

۴۹. د جنورۍ او د ډسمبر تر ۳۱مې نیټې پورې ټولټال ۱۲۶۳۷۰۷ کسان افغانستان ته بېرته راستانه شوي چې د دې شمېرې څخه ۷۶۸۱۹۷ تنه له پولو څخه بېرته شړل شوي دي نا قانونه کسان دي. د راستنیدونکو کډوالو شمیر خورا کمه وه، یوازې ۱۳۰۴ تنه بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي. د اګست له لومړۍ نیټې څخه بیا د دسمبر تر ۳۱ نیټې پورې ۴۸۵۶۲۱ ناقانونه مهاجرین او ۷۲ کډوال د ایران له اسلامي جمهوریت څخه او ۲۰۸۷۱ ناقانونه مهاجرین او ۱۲ کډوال له پاکستانه ۱۲ او ۱۰ تنه نور افغان کډوال له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته بېرته راستانه شوي دي.

۵۰. په ۲۰۲۱ کال کې، افغانستان د حاد پولیو ویروس لومړي بڼه، څلور پیښې، او ۴۳ پیښې د واکسین کولو له امله پخش شوي د پولیو ویروس دوهمه بڼه تجربه کړی دی. په ۲۰۲۱ کال کې په ټول هیواد کې د پولیو واکسین څلور کمپاینونه ترسره شوي دي، او په هر کمپاین کې ۹.۹ میلیونه ماشومان تر پوښښ لاندې نیول شوي دي – چې په هغه کې د کور په کور او جومات په جومات د واکسین کولو تګلاره کارول شوی ده. په تېرولو وروستي کمپاین کې (نومبر ۲۰۲۱) له ۸.۵ میلیون څخه زیات ماشومان واکسین شوي چې له دې جملې څخه ۲.۴ میلیونه ماشومان د ۳ کلونو په موده کې د لومړي ځل لپاره واکسین تر لاسه کړل.

۵۱. په چاودیدونکو توکو خورا زیاته ککړه سیمه چې په هغه کې د جګړې پاتې شوني چاودیدونکي توکي او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي شامل دي، ملکي وګړو او د بشرپالنې مرستو پرسونل ته یو ګواښ دی. د ۲۰۲۱ کال د جولای او دسمبر د میاشتې ترمنځ، د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ موسسه او د هغه شریکانو د سلګونو ټولنو د ګټې اخیستلو لپاره له یو میلیون متر مربع څخه زیاته ککړه ځمکه پاکه کړې، د جګړې پاتې شوني چاودیدونکي توکي او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي زرګونه توکي

يي په خوندي ډول سره ليږې کړي دي. د دې سريزه، ۱۰۸۶۵۰ کسانو، د ۱۴۵۰۴ ښځو او انجونو په ګډون، د چاوديدونکو توکو د ګواښ زده کړې ترلاسه کړې دې.

**شپږم. د مخدره توکو په وړاندي مبارزه**

۵۲. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکي او جرمونه دفتر د ۲۰۲۱ کال د نومبر د مياشتې د لنډې څېړنې پر بنسټ، په افغانستان کې د کوکنارو تر کښت لاندې سيمه کابو ۱۷۷۰۰۰ هکتاره ځمکه اټکل شوی ده. دا د ۲۰۲۰ په پرتله ۲۱ سلنه کمښت څرګندوي خو دا په هر هکتار کې دترياکو په حاصلاتو کې د زياتوالي پيلامه ده. اټکل شوی دی چې په افغانستان کې د ترياکو د توليد کچه په ۲۰۲۱ کال کې ۸ سلنه د ۲۰۲۰ په پرتله زياته وي، دا په ګوته کوي چې د ترياکو توليد په بېساره ډول د پنځم پر له پسې کلونو په موده کې د ۶۰۰۰ ټنه څخه زيات شوی دی. اټکل کيږي چې په افغانستان کې په ۲۰۲۱ کال کې د ترياکو څخه عايدات د ۱.۸ ميلياردو څخه تر ۲.۷ ميلياردو امريکايي ډالرو ته ورسيږي. د ترياکو ټولټال ارزښت، د کورني مصرف او صادرولو په ګډون، د هيواد د ناخالص کورني توليد د ۹ څخه تر ۱۴ سلنه جوړوي. خو د افغانستان څخه بهر د نشه يي توکو د ناقانونه اکمالاتو په ځنځير کې ډير زيات عايد تر لاسه کوي. په وروستيو کلونو کې په افغانستان کې د ميتامفيتامين په توليد کې وده او چټک زياتوالي سره، د مخدره توکو ناقانونه اقتصاد لا نور هم پيچلې شوې دی.

۵۳. د ۲۰۲۱ کال د اګست راهيسې دوامدار ناڅرګنده وضعيت د ترياکو بيې لوړې کړې، د کوکنارو په کښت کې زياتوالي يې هڅولي او د مخدره توکو د قاچاق د زياتوالي په اړه انديښنې زياتې کړي دي. په ۲۰۲۱ کال کې د ترياکو منځنۍ بيه په هر کيلوګرام کې ۶۲ ډالره ارزښت درلود، چې د ۲۰۲۰ کال په پرتله ۱۳ سلنه زياته شوي ده. د افغانستان سياسي وضعيت کې د بدلون د سمدستي غبرګون په توګه نرخونه د ۲۰۲۱ کال د اګست په مياشت کې د مې د مياشتې په پرتله دوه چنده شول.

**اووم. د ماموريت ملاتړ**

۵۴. په داسې حال کې چې د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، په يوناما کې د خالي بستونو کچه د نړيوالو لپاره ۱۵ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۱۹ سلنه، د داخلي مسلکي افسران لپاره ۷ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۵ سلنه وه، د تصويب شوي ۶ سلنې کچې په پرتله، په ترتيب سره ۷ سلنه، ۳ سلنه او ۳ سلنه ده. د نړيوالو ښځينه کارکوونکو تناسب ۳۲ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۴۵ سلنه، د داخلې مسلکي افسرانو لپاره ۱۳ سلنه او د داخلې کارکوونکو لپاره ۱۰ سلنه دی.

۵۵. د طالبانو د پرمختګ په ځواب کې د غبرګون په ډول د ماموريت په پرسونل کې د احتياطي کمښت او په نورو ځايونو کې د دوي د ځای پر ځای کولو او ويستلو په تعقيب، ياد شوي پرسونل د سپتمبر په مياشت کې بېرته خپلو دندو ته راستنيدل پيل کړي دي. د پرسونل يوه کوچنې ډله د قزاقستان په الماتې ښار کې په موقتي توګه تاسيس شوي دفتر کې خپلو دندو ترسره کولو ته دوام ورکوي. په افغانستان کې د کوويډ - ۱۹ د وضعيت د ارزونې پر بنسټ، د اکتوبر په مياشت کې، کارځای ته د پرسونل بېرته راتګ کچه له ۵۰ څخه تر ۷۰ سلنه لوړه شوې او دغه وضعيت د اوسني امنيتي حالت کې بدلون پورې تړلې دی. اوسمهال روان بيړني پلان جوړونه د ملګرو ملتونو د پرسونل او علمياتو ته د کوويد - ۱۹ د قضيو په شدت او امنيتي ګواښونو باندي تمرکز لري.

## اتم. مشاهدات او سپارښتنې

۵۶. د افغانستان وضعیت د طالبانو له خوا د ځواک د نیولو له شېږو میاشتو وروسته هم کړکېچن او ناڅرګند پاتې دی، ځکه چې څو اړخیز سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او بشرپالنې ارتعاشونه په ټول هیواد کې تکراریږي. د افغانستان خلکو، په ځانګړې توګه د بشرپالنې اړتیاو ته رسیدګې د لسیزو جګړو په اوږدو کې، ملګري ملتونه زغلمی دی. دغه مسولیت، د تل په څېر نن ورځ هم د یو فشار په ډول پاتې دی.

۵۷. طالبان هڅه کوي چې ځان د سرپرست حکومت په توګه وښيي. دغه تحریک تر اوسه هم داسې حکومتی جوړښتونه نه دي جوړ کړي چې، د ښځو په ګډون، د هیواد قومي، سیاسي او جغرافیایي تنوع منعکس کړي. د منابعو او ظرفیت د نشتوالي او همدارنګه د نړیوالي حکومتدارۍ د نورمونو سره په بیلا بیل ډګرونو کې د ایدیالوژیکي ټکر له امله، هڅې محدودې دي. په ورته حال کې تحریک په دې لټه کې دی چې خپل داخلی همغږي هم مدیریت کړي. څرنګه چې طالبان نه دې توانیدلي د زیات شمیر افغان وګړو باور تر لاسه کړي او یا افغانان متقاعد کړي چې د حکومت کولو وړتیا لري، زیات شمیر افغانان د خپل هیواد پریښودلو ته دوام ورکوي. د مخ په وړاندې تګ لپاره دا اړینه ده چې هرې تر سره شوي هڅې مخه دا وي چې د افغاني ټولنې ټولو برخو ته ورسیږي تر څو داسي یوه پروسه ممکنه شي چې وکولای شي د ټول شموله حکومتدارۍ جوړښتونو لپاره لار هواره کړي، او په بشپړه توګه د متنوع افغاني ټولنې هیلې او ګټې منعکس کړي.

۵۸. افغانستان یو ستر اقتصادي رکود تجربه کوی. بشپړ ټولنیز- اقتصادي سیستم مجموعه، قسماً په حکومتدارۍ کې د کموالي له امله، د غیر بشرپالنې د مرستو د جریان د ځنډولو او بندیزونه په خاطر سقوط خوا ته روان دی.

۵۹. د ثبات او راتلونکې نړیوال ملاتړ لپاره طالبانو ته تر ټولو غوره لاره دا ده چې دوي له هغه انزوا څخه ډډه وکړي کوم چې دوي په پخوانې دوره کې د واک پر مهال تجربه کړي دي. د اوسنې چارواکو، نورو افغاني برخه والو، سیمه او نړیوالې ټولنې سره د رغنده خبرو اترو زمینه برابرول، چې د افغان وګړو په حقونو او هوساینې باندی تمرکز ولري، اړینه ده. زه د دغه ډول خبرو اترو د رامنځته کولو په خاطر د مثبتو ګامونو د اخیستلو څرک مشاهده کوم.

۶۰. دا مهمه ده چې دغه ډول خبرې اترې د حکومتداري – د بشري بنسټیز حقونو او آزادیګانو په ګډون – هغو پراخو اړوندو مسلو ته رسیدګې وکړي چې، د نړیوالې ټولنې سره د اړیکو په ګډون، د افغانستان د وګړو په سوکالۍ او امنیت او راتلونکې باندې د پام وړ اغیزه ولري. د افغانانو د بشري حقونو درناوی او تحفظ ، ازادۍ او هوساینه، د جنسیت، عمر یا توکم په پام کې نیولو څخه پرته، د هیواد په ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ژوندانه په ټولو برخو کې ګډون، او په بشپړ ډول او مساوي توګه د دوی د ظرفیت په پام کې نیول، د ټول شموله، باثباته او سوکاله ټولنې لپاره اړین اجزاوي دي.

۶۱. د افغان میرمنو او نجونو اوسنی وضعیت چې دوي ورسره مخ دي په بشپړ ډول د دوي د حقونو او آزادیګانو تعمیل او تعلیم او اقتصادي فرصتونو او عدالت ته د دوي مساوي لاسرسی، په ژوره توګه د اندیښنې وړ دی. د تېرو شلو کلونو څخه زیات موده کې، د افغان نجونو یو نسل د زده کړي او د بشپړو امکاناتو څخه برخمن شوی دی او په افغاني ټولنه، حکومت، سوداګرۍ او نورو سکتورونو کې ګټوره ونډه لوبولې دي. د دې ونډو څخه د دوي بې برخه کول نه یوازې د دوي سره غیرعادلانه چلند دی بلکې د هیواد په پرمختګ او ثبات باندي منفي اغیزه به هم ولري. زه پر اوسنې چارواکو باندی غږ کوم چې باید د دې تضمین لپاره چې افغان میرمنې به وکولای شي په بشپړه توګه د خپلو حقونو او آزادیو څخه کار واخلي، سمدستي ګامونه پورته کړي.

۶۲. د ژوند د حق څخه د سرغړونې تورونه د اوسنې چارواکو په وړاندي دوام لري، چې په هغه کې د اوسنې چارواکو له خوا د پخواني حکومتي چارواکو او د افغانستان د ملي او دفاعي ځواکونو غړو ته اعلان شوي د عمومی بخښنې څخه سرغړونې هم

شامل دي. د عمومي بخښنې اعلان ته ژمن پاتې کیدل حتمی دی تر څو د بشري حقونو د مکلفیتونو رعایت کول ډاډمن شي او د سرغړونکو مسؤلو کسانو څخه حساب واخیستل شي.

۶۳. د اګست له ۱۵ راهیسې د مفکوري او نظربیان، سوله ایزو یوځایکیدو او راغونډیدو پر ازادی باندي د محدودیتونو راپوړونه زیات شوي دي. زه له طالبانو غوارم چې د بشري حقونو سره د اجابت پالیسیګانې، او همدارنګه د ادعا شویو ګواښونو، تاوتریخوالی او پخپل سري نیولو اړوند پېښې، چې د رسنیو کارکونکي، لاریون کوونکي، د بشري حقونو مدافعین، او په لویه کچه عام خلک په نښه کړي، او پر زیان منیدونکو ډلو تمرکز لري، خپلواکه او بې طرفه تحقیقات تر سره کړي.

۶۴. په یو شمېر ولایتونو کې د اجباري شړلو پېښې په دوامدار توګه راپور ورکړ شوی دی، چې په ظاهر کې داسې ښکاري چې د ځمکې، کور او ملکیت د حقونو پر سره د لسیزو پخوانیو شخړو له امله وي او د لږکیو ټولنو ته د زیان رسولو لامل شوی دی. جبري ایستل کیدای شي د حقونو څخه جدي سرغړونه وګڼل شي چې د هغه له امله د کافي کور درلودل؛ خواړه، اوبه، روغتیا، زده کړي، کار د شخص امنیت؛ د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي چلند څخه پرته؛ او همدارنګه د خوځښت او تردد د حقونو څخه سرغړونه تر سره شي. زه پر اوسني چارواکو باندي غږ کوم چې د اجباري شړلو مخه ونیسي او د شړل شویو کورنیو سره مرسته وکړئ، او دغو شخړو ته د رسیدګي په خاطر، د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو سره سم، یو ستراتیژي جوړه کړئ.

۶۵. زه په ټول هیواد کې د زیانمنیدونکو د حاد کچې له امله سخت اندیښمن یم. د هیواد تر نیمايي زیات وګړي د ژوند ژغورنې بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. په عین وخت کې، د بنسټیزو خدمتونو، مالي سیسټمونو او د ملکي خدمتونو کې درز، له مخکې څخه یو ناوړه بشري وضعیت لا پسې زیات کړی دی. ۲۳ میلیون وګړي، یو بوږنوونکي شمېره، چې د ټول نفوس – ۵۵ سلنه جوړوي - د خوراکي توکو په بحران او د خوړو د نه مصؤنیت د بیړنۍ کچې سره مخ دي، او تمه کیږي چې کابو ۹ میلیون تنه په "اضطراري" حالت کې وي، چې په نړۍ کې ترټولو لوړه شمیره ده. خلک خپلې محدودې ذخیرې خلاصوي او د ژوندي پاتې کیدو لپاره مضر او د نه احیا کیدونکې مبارزی میکانیزمونو ته – خپل ماشومان اجباري کار اړ ایستل، په زور ودونو او خطرناک او غیرمنظم مهاجرت ته غاړه ایښودل او د ځمکې پلورل په ګډون - اړ ایستل شوي دي. اقتصادي ناوړه وضعیت په ټول هیواد کې یو شان دی او په ښارونو کې میشت خلک د خپلو عایداتو او د بانکونو له خوا ایثار شوي سپما شوي پیسو د ورو ورو کیمدو شاهدان دي.

۶۶. د نړیوالې ټولنې سره د یو خلاق، د انعطاف وړ او رغنده ښکیلتیا پرته، په افغانستان کې بشرپالني او اقتصادي وضعیت به یوازې نور هم خراب شي. دا ښکیلتیا د هغو موقوفونو څخه توپیر لري کوم چې د نړیوالې ټولنې غړي ممکن د اوسنې چارواکو سره اختیار کړي. ملګري ملتونه په ټول هیواد کې د عمل په ډګر کې پاتې کیږي، په لوړ ظرفیت سره کار کوي بشردوستانه مرستې رسوي او د افغانانو بنسټیز اړتیاوې پوره کوي. په دې سخت ژمي کې، چې د افغان ولس انعطاف او مقاومت خپل اخرې حد ته رسیدلی دی، نړیوالې ټولنې ته لازمه ده چې د افغان ولس اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړي. زه د بندیزونو د رژیمونو څخه چې د بشرپالنې مرستي یې لا د مخه د تعزیراتو څخه مستثنی کړي دي هرکلی کوم او پر ډونرانو باندي غږ کوم چې په بېړه سره اضافي ژمنې تر سره کړي او عمومي جوازونه صادر کړي چې د بشرپالني ټولو فعالیتونو لپاره اړین انتقالات تر پوښښ لاندي و نیسې. د بېړنی بشري اړتیاوې پرته، د یو فعال او وړ حکومتوالی بنسټونه په بنسټیز ډول ناکاره شوي دي، کوم چې د سبمی او تر هغه هاخوا ټیکاو او ثبات د خورا ریښتینی ګواښ سره مخامخ کوي.

۶۷. دا تر بل هر وخت څخه ډیر مهم دی چې موږ په یو مشترک غږ سره خبرې وکړو د نړیوالې ټولنې نظریې او پیغامونه په همغږی سره منعکس کړو. د دې خبري په پام کې نیولو سره چې د یو ښه راتلونکي لپاره د افغانانو او نړیوالو هېلې او همدارنګه د دې اړتیا چې د یو بل تاوتریخوالې شخړی مخنیوي وشي چې افغانستان له ۴۰ کلونو راهیسې ځپلی دی، داسي یوه تګلاري ته، چې سیاسي، امنیتي، ټولنیز اقتصادي، بشري او د بشري حقونو ځانګړنې او لومړیتوبونه په یوه ماموریت کې سره یوه موټی او واحد کړي، اړتیا شته. افغانستان یو څو میلتي ټولنه ده چې دغه تنوع باید د عامه خلکو د چاري په تر سره کولو او د هیواد په پرمختګ کې را برسېره شي. د افغان ولس څخه ملاتړ باید د ملګرو ملتونو د راتلونکې سیاسې حضور لپاره لارښود اصل وي.

۶۸. زه وړاندیز کوم چې د راتلونکي ملګرو ملتونو سیاسي حضور ستراتیژیک اهدافو کې لاندنۍ اصلونه شامل وي:

(الف) په داسې حال کې چې پخلاینه پر مخ بیول کیږي، د ټولو خواوو سره کارکول دوام و مومی ترڅو یو اغیزمن، مسؤل او ټول شموله افغان حکومتولي او ټولنه ترویج شي؛

(ب) مرسته وشی تر څو د ټول نارینه او ښځینه افغان وګړی بنسټیز حقونه او ازادیګانې پیاوړي، درناوی او محفوظ شی؛

(ج) د افغان ولس لپاره د اړینو خدمتونو د برابرولو لپاره ملاتړ او د اقتصادي او ټولنیزو شرایطو د رامنځته کولو لپاره مرسته وشي تر څو د ځان بسایني او ټیکاو لامل شي.

۶۹. زه د راتلونکو لومړیتوبونو سپارښتنه کوم:

(الف) پر ځواب ویونکي او مشارکتي حکومتولی، ټولشمولیت، او باور جوړوني باندې له تمرکز سره د پوهاوي او د سیاسي ښه نیت چارو برابرول؛

(ب) د اړینو بشري مرستو د همغږي کولو او د هغوي د برابرولو لپاره د زمینې برابرول جاري ساتل؛

(ج) د احتساب، روڼتیا او د مرستو د موثرې کاروني د زیاتولو په پار د معلوماتو د شریکولو او هڅو د زیاتولو له لارې د بنسټیزو بشري ارتیاوو په تړاو د نړیوالو مرستندویانو او ادارو همغږي کول؛

(د) د بر حاله چارواکو، نورو افغان شریکبانو، د سیمې او په پراخه کچې د نړیوالې ټولنې ترمنځ د ترتیب شوې پالیسي ډیالوګ [خبرو اترو] تسهیلول؛

(هـ) د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو په اړه د هغو نړیوالو اسنادو چې افغانستان یې غړیتوب لري او د هغوي پر رعایتول ملزم دی د احکامو د تطبیقولو ته وده ورکول، ملاتړ کول او سلا مشورې ورکول، همدارنګه د بشري حقونو د سرغړونو او تېریو څارل او په اړه یې راپور ورکول؛ او د اړینو عامه خدمتونو او دغه راز عادلانه محاکمې د برابرولو او د مساوي لاس رسي په پار ملاتړ او حمایت کول؛

(و) ولسي وګړو ته د چاودېدونکو مهماتو او نا چاوده توکو ګواښ ته د رسیدګۍ په پار د ماین پاکۍ خدمتونو برابرول.

۷۰. د ملګرو ملتونو راتلونکو حضور د سرمنشي د ځانګړي استازي په مشرۍ او د سرمنشي تر رهبرۍ لاندې په کچه له دوه رکنونو څخه تشکیلیږي: (الف) سیاسي او حکومتولي؛ او (ب) بشري مرستې او پراختیا. د یوه منسجم او توحید شوي جوړښت په څېر، دغه ماموریت به د ځانګړي استازي په مشرتابه د ملګرو ملتونو د منځګړیتوبونو ترمنځ د پراخ همغږیتوب او اغیزمنتوب د ترلاسه کولو په موخه کار کوي.

۷۱. د ځانګړي استازي د دفتر تر رهبري لاندې د بشري حقونو څانګه بیطرفه/بېپرې راپور ورکوونه او په ملي او ځایي کچه له ټولو شریکبانو سره تعامل برابروي. نوموړې څانګه به د ماشومانو په ګډون د ولسي وګړو وضعیت څاري، راپور ورکوي او ملاتړ کوي، او د ټولو ښځینه او نارینه افغانانو د بنسټیزو حقونو او آزادیو؛ د ښځو او نجونو د حقونو د ساتنې؛ د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخیوي او له منځه وړلو؛ عدالت ته لاس رسي؛ د شکنجې د مخنیوي او د توقیفیانو حقونو ته ودې ورکولو په پار ملاتړ او حمایت کوي. پر دې سربیره، نوموړې څانګه به له هڅو سره د مرستې په موخه د مدني، سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري حقونو څارنه کوي او په اړه به یې راپور ورکوي څو یې وزلي راکمه کړي او له ټولنیز همغږیتوب سره مرسته وکړي، همدارنګه د قربانیانو او مدني تعامله له حقونو ملاتړ وکړي. چېرې چې مناسبه او شوني وي، دغه څانګه به چمتو وي چې د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو په اړه د مسوولیت/مکلفیت لرونکو اشخاصو لپاره تخنیکي سلا مشوره برابره کړي.

۷۲. د ماموریت په سیاسي او د حکومتولۍ په رکن کې به راتلونکې اداري شاملې وي:

(الف) د سیاسي چارو څانګه: دغه څانګه به سیاسي، امنیتي، ټولنیز او اقتصادي تحولات څاري او په اړه به یې راپور ورکوي، هر اړخیزه شننه به برابروي او له بر حاله چارواکو، سیاسي فعالینو، د مدني ټولنې له استازو او نورو شریکبانو سره به اړیکې ساتي چې د عامه چارو په ترسره کولو کې سیاسي ټول شمولیت او پراخ مشارکت ته وده ورکړي. نوموړې څانګه به دغه راز په ټول هیواد کې امنیتي ډینامیکونه څاري او شني. دغه څانګه به د داسې ظرفیتونو رانغاړونکې وي چې د ناقانونه اقتصاد په اړه د یوه ښه درک په ګډون د سیاسي اقتصاد اړوند شننه ترسره کړي. سره بېره پر دې، یو عدلي ظرفیت به د قانون د واکمنۍ په تړاو د تحولاتو شننه کوي او په اړه به یې راپور ورکوي؛

(ب) د حکومتولۍ او ټولنې د چارو څانګه: په ساحوي دفترونو کې د هغې د کارمندانو په ګډون، دغه څانګه به په ملي او ځایي کچو د حکومتولۍ ټول شموله او مشارکتي جوړښتونو، دغه راز د ښځو، ځوانانو، لږکیو او معلولیت لرونکو کسانو په ګډون پراخ ګډون ته وده ورکوي. نوموړې څانګه به د ټول شمول مشاورتي میکانیزمونو، دغه راز د باور جوړونې، د شخړو د مدیریت او پخلاینې په اړه سلا مشورې برابروي، او د ملګرو ملتونو او همکارو ادارو له خوا د برابرې شوې مرستې له ځایي همغږۍ سره مرسته کوي.

(ج) د سیمه ییزې همکارۍ واحد: دغه واحد به په سیمه کې د هیوادونو له خوا همغږې شوې تګلارې تسهیلوي څو په افغانستان کې له ټیکاو سره مرسته وکړي. نوموړی واحد به د منځنۍ اسیا لپاره د ملګرو ملتونو د محتاط ډیپلوماسۍ له سیمه ییز مرکز او دغه راز په اسلام آباد او تهران کې د ماموریت له ارتباطي دفترونو سره له نږدې کار کوي.

۷۳. د ماموریت د بشري مرستو او پراختیا په رکن کې به راتلونکونې اداري شاملې وي:

(الف) د مرستندویانو د همغږۍ څانګه: دغه څانګه به د بر حاله چارواکو، نورو افغان شریکبانو، سیمې او په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې ترمنځ د پالیسي د ترتیب شوې پالیسي ډیالوګ [خبرې اترې] تسهیلوي؛ د پایښت لرونکو ټولنیزو پانګونو په لور تګلارې ته وده ورکوي؛ او د بنسټیزو بشري اړتیاوو د پوره کولو په موخه د ټولنې پر بنسټ له سیستمونو سره مرسته کوي. دغه څانګه به د سیاسي چارو له څانګې سره د سیاسي اقتصاد په شننه کې له نږدې کار کوي؛

(ب) د معیشت همغږي کوونکي دفتر: د بشري مرستو او پراختیا رکن مشر به همدارنګه د معیشت همغږي کوونکي او د بشري مرستو د همغږي کوونکي په څېر چارې پر مخ وړي. دغه دفتر به د معیشت همغږي کوونکي د همغږۍ له چارو سره مرسته کوي او په ټول هیواد کې به د فعالیتونو همغږي او انسجام غښتلي کوي؛

(ج) د خطر د مدیریت واحد: دغه واحد به له افغانستان سره د ملګرو ملتونو همغږې شوې مرستې څاري څو د مرستو د انحراف او هغو کسانو او ادارو ته چې د ملګرو ملتونو د بندیزونو له خوا په نښه شوي د تصادفي ګټې رسېدو خطر راکم کړي؛

(د) د ماین پاکۍ د خدمتونو څانګه: دغه څانګه به د ماموریت مشرتابه لپاره ولسي وګړو ته د ناچاوده مهماتو او چاودېدونکو توکو د ګواښ او پر هغوي یې د اغیز په اړه ارزونې برابروي، او د بشري مرستونو د پراختیایي نوښتونو د ملاتړ په موخه به د نوموړو مهماتو او توکو د ګواښ د راکمونې د تدابیرو په اړه سلا مشورې وړاندې کوي، او د ماین پاکۍ سکتور له همغږۍ سره به مرسته کوي.

۷۴. امنیتي شرایطو ته په کتو، د دې سپارښتنه کې اوسني شپږ سیمه ییز ساحوي دفترونه (چې یو شمېر ولایتونه تر پوښښ لاندې نیسي) او پېنځه ولایتي ساحوي دفترونه وساتل شي ترڅو په ټول هیواد کې رسېدنې ته زمینه برابره شي، د ماموریت دندې د تطبیق سره مرسته وشي او د ماموریت مرکزي دفتر ته راپور ورکړل شي.

۷۵. ماموریت به دغه راز په اسلام آباد او تهران کې د خپلو ارتباطي دفترونو ساتل جاري وساتي ترڅو د همکارۍ سیمه ییزې چارې تسهیل کړي.

۷۶.	زه د امنيت شورا له غړو غوښتنه کوم چې د يوه کال موديې لپاره په افغانستان کې د ځای نېوونکي سياسي حضور لپاره زما سپارښتنو ته لازمه پاملرنه وکړي. د وضعيت وده کوونکي ځرنګوالي په پام کې نېولو سره، د ماموريت صلاحيت او جوړښت ښايي هغه وخت بدلون ته اړتيا ولري.

۷۷.	زه په افغانستان کې زما د ځانګړي استازي ديبورا لاينز په مشرتابه د ملګرو ملتونو له ټولو کارمندانو او د همکارو نا دولتي ادارو څخه په خورا ننګونکي شرايطو کې د هغوي د دومدارو سرښندنو پخاطر د زړه له کومې مننه او قدرداني کوم.